شتمنې
SHTAMANI
اوونیزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل:**
الله تعالی فرمايي: زه له خپل بنده سره پر ما د هغه د گومان مطابق چلند کوم او کله، چې هغه ما وبولي (دعا وکړي)، زه ورسره یم
{صحیح مسلم:۲۸۲۹}

**از حضرت ابوهريره رضی الله عنه روایت است که رسول الله ﷺ فرمود:**
الله متعال فرموده است: من با بنده ام مطابق گومان وی عمل می کنم، زمانیکه به من رجوع (دعا) میکند با وی خواهم بود. {صحیح مسلم:۲۸۲۹}

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

محرم الحرام ۱۰ -۱۴۴۸ ل س | د زمري ۳ -۱۴۰۵ل ل | د جولای ۲۵ -۲۰۲٦ز
شپږم کال | ١٦٨ گڼه | ٤ مخیزه



د عالـیقدر امیرالـمؤمنین (حفظه الله) د فرمـانـونـو لـړۍ

**د واده په اړوند امورو کې د رعايت وړ ټکي**

**لومړۍ ماده:**

۱-د بالغې انجلۍ ولي، چې اکثره اوقاتو کې د هغې پلار یا ورور وي شرعاً مکلف دی، چې د هغې د شرعي حقوقو رعايت و کړي.

۲- د بالغې انجلۍ ولي شرعاً مسئوليت لري، چې د هغې په کوزده کولو کې له هغې سره مشوره او د هغې مثبت نظر واخلي.

۳- د بالغې انجلۍ ولي شرعاً نه شي کولای د هغې له خوښې پرته يې په زور زياتي سره چاته په نکاح کړي.

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله

### مدیریت مصارف عامه و مسئولیت پذیری مالی

مصارف عامه یکی از مهم‌ترین ابزارهای حکومت برای تحقق اهداف اقتصادی، اجتماعی و توسعه‌ای کشور به شمار می‌رود. هر واحد پولی که از بودجه ملی به مصرف می‌رسد، در حقیقت امانتی است که از منابع ملی تأمین شده و باید با دقت، شفافیت و مسئولیت کامل در جهت منافع عمومی هزینه گردد. از همین رو، مدیریت مؤثر مصارف عامه و مسئولیت پذیری مالی، نه تنها یک ضرورت اداری، بلکه یکی از اصول اساسی حکومتداری سالم و زمینه ساز توسعه پایدار است. مدیریت مصارف عامه به معنای برنامه‌ریزی، تخصیص، اجرا، نظارت و ارزیابی هزینه‌های دولت بر اساس اولویت‌های ملی و نیازهای واقعی جامعه است. زمانی که منابع مالی محدود باشند، اهمیت این مدیریت دوچندان می‌شود؛ زیرا تصمیم‌گیری درست درباره محل مصرف بودجه می‌تواند نقش تعیین‌کننده‌ای در رشد اقتصادی، بهبود خدمات عامه، ایجاد اشتغال، توسعه زیربناها و افزایش رفاه شهروندان داشته باشد. در کنار مدیریت صحیح منابع، مسئولیت پذیری مالی از جایگاه ویژه‌ای برخوردار است. مسئولیت پذیری مالی به این معناست که تمام نهادهای دولتی در برابر نحوه مصرف بودجه، نتایج برنامه‌ها و میزان تحقق اهداف تعیین‌شده پاسخگو باشند. این پاسخگویی موجب افزایش اعتماد عمومی، ارتقای شفافیت، جلوگیری از اتلاف منابع و تقویت انضباط مالی در نظام اداری می‌شود. شفافیت مالی نیز یکی از ارکان اساسی مدیریت مصارف عامه است. زمانی که اطلاعات مربوط به بودجه، هزینه‌ها و پروژه‌های انکشافی به صورت دقیق ثبت، نظارت و ارزیابی شود، زمینه برای کاهش تخلفات مالی، افزایش کارایی و بهبود کیفیت خدمات دولتی فراهم خواهد شد. استفاده از سیستم‌های الکترونیکی مدیریت مالی، توسعه ظرفیت‌های تخصصی کارکنان و تقویت نظارت داخلی و خارجی، از جمله اقداماتی است که می‌تواند در تحقق این هدف نقش مؤثری ایفا کند. از سوی دیگر، مدیریت اصولی مصارف عامه زمینه را برای استفاده بهینه از منابع داخلی نیز فراهم می‌سازد. با افزایش انضباط مالی، کاهش هزینه‌های غیرضروری و هدایت منابع به سمت پروژه‌های اولویت‌دار، دولت قادر خواهد بود خدمات بهتری را در بخش‌های آموزش، صحت، زیربناها، زراعت و سایر حوزه‌های اساسی ارائه کند. این امر در نهایت به رشد اقتصادی، افزایش بهره‌وری و تقویت ثبات مالی کشور منجر خواهد شد. امروزه بسیاری از کشورها موفقیت خود را در مدیریت اقتصادی، مرهون رعایت اصول مسئولیت پذیری مالی، شفافیت و مدیریت کارآمد بودجه می‌دانند. تجربه‌های جهانی نشان می‌دهد که هر اندازه نظام مالی یک کشور منظم‌تر، پاسخگوتر و مبتنی بر شفافیت باشد، زمینه جذب سرمایه‌گذاری، توسعه فعالیت‌های اقتصادی و افزایش اعتماد شهروندان نیز بیشتر فراهم می‌شود. در شرایطی که توسعه اقتصادی نیازمند استفاده مؤثر از تمامی ظرفیت‌های موجود است، مدیریت مصارف عامه باید بر پایه صرفه‌جویی، کارایی، عدالت در تخصیص منابع و رعایت منافع ملی استوار باشد. تحقق این اهداف مستلزم همکاری همه نهادهای مسئول، تقویت فرهنگ پاسخگویی، نظارت مستمر و پایبندی به قوانین مالی است. مدیریت مصارف عامه و مسئولیت پذیری مالی، تنها یک وظیفه اداری نیست، بلکه سرمایه‌ای برای آینده کشور محسوب می‌شود. هرچه منابع مالی با برنامه‌ریزی دقیق‌تر، شفافیت بیشتر و پاسخگویی بهتر مدیریت شوند، زمینه برای توسعه پایدار، تقویت اقتصاد ملی و افزایش اعتماد عمومی بیش از پیش فراهم خواهد شد. این رویکرد می‌تواند مسیر دستیابی به حکمرانی کارآمد و آینده‌ای باثبات را هموار سازد.

با احترام
اداره

# د مالیاتي تخفیفونو د اعلان په موخه رسنيزه ناسته وشوه



د ماليې وزارت پـه وړانديـز او د عالیقـدر امیرالمؤمنیـن (حفظـه اللـه تعالـی) د شـفاهي هدایـت پـر بنسـټ، د خصوصـي سـیکټور د صنعـت او سـوداګرۍ پـه بېلابېلـو برخـو کـې مالیـاتي تخفیفونـه، د حکومـت د اطلاعاتـو او رسـنیو پـه مرکـز کـې یـوې رسـنیزې ناسـتې پـه تـرڅ کـې اعـلان شـول. په دې ناسته کې د افغانسـتان اسـلامي امـارت د رياست الـوزراء اداري مرسـتيال مولـوي عبدالسـلام حنفـي، د ماليې وزيـر حاجي مـلا محمـد نـاصر اخونـد، د صنعت او سـوداګرۍ وزيـر الحـاج نورالديـن عزيـزي، د چـارو اداري رئيـس شـيخ الحديـث انورالحـق انـور، د عوايـدو او ګمرکونـو معیـن الحـاج مفتـي عبدالمتیـن سـعید، د سـوداګرۍ او پانګونـې خونـې رئيـس سـيد کريـم هاشـمي، د ماليـې وزارت يـو شـمېر مسـئولينو، رئيسـانو او د خصوصـي سـيکټور مسـئولينو ګـډون کـړی وو. د ماليـې وزيـر د دې ناسـتې د پرانيسـتې وينـا پـر مهـال وويـل، لـه تېـرو (۵) کلنـو راهيسـې، چـې د افغانسـتان اسـلامي امـارت بيـا واکمـن شـوی، د سـوداګرو لپـاره د لا ډېـرو اسـانتياوو د رامنځتـه کولـو او د ماليـه ورکوونکـو د سـتونزو د کمولـو پـه موخـه (۱۳) ډولـه معافيتونـه او ماليـاتي تخفيفونـه وضـع شـوي، چـې د نـړۍ د هېوادونـو پـه منـځ کـې بې‌سـاري دي. د رياسـت الـوزراء اداري مرسـتيال زياتـه کـړه، چـې خلکـو تـه د اسـانتياوو رامنځتـه کـول پـه اسـلام کـې يـو اصـل دی؛ لـه همـدې املـه د افغانسـتان اسـلامي امـارت مشرتابـه د خصوصـي سـيکټور د ملاتـړ او د پانګونـې د هڅونـې پـه موخـه لانـدې مالیـاتي تخفیفونـه پـه پـام کـې نیـولي دي. د حکمـي اشـخاصو (شرکتونـو او روغتونونـو) پـر عوایـدو مالیـه لـه (۲۰) سـلنې څخـه (۱۰) سـلنې تـه راکښـته شـوې او د حقیقـي اشـخاصو د کلنـي عایـد د معافیـت کچـه، چـې پخـوا (۶۰۰۰۰) افغانـۍ وه، (۱۲۰۰۰۰) افغانیـو تـه لـوړه شـوې ده. همدارنګـه، د منقولـو او غیرمنقولـو شـتمنیو د انتقـال مالیـه لـه (۱) سـلنې څخـه (۰،۵) سـلنې تـه راټیټـه شـوې او د تېلـو او ګازو د عمـده پلـور ثابتـه مالیـه د هـر ټـن پـر وړانـدې (۵۰) افغانـۍ ټـاکل شـوې ده. د صنعـت او سـوداګرۍ وزيـر وويـل، چـې خلکـو تـه د اسـانتياوو رامنځتـه کـول د افغانسـتان اسـلامي امـارت لـه لومړيتوبونـو څخـه دي او پـه پـام کـې نیـول شـوي مالیـاتي تخفیفونـه کـولای شي د عوایـدو او کاري فرصتونـو د زیاتـوالي، د سـوداګرۍ د پراختیـا او د هېـواد د اقتصـادي ثبـات لامـل شي. نومـوړي لـه کورنیـو او بهرنیـو سـوداګرو او پانګه‌والـو وغوښـتل، چـې پـه هېـواد کـې دننـه پانګونـه وکـړي.

دوام :۲ مخ

## د ماليې وزارت او خصوصي سيکټور ترمنځ د همغږۍ ناسته وشوه



د عالیقـدر امیرالمؤمنین (حفظـه اللـه تعالـی) د حکـم پـر بنسـټ او د عوایـدو او ګمرکونـو معیـن الحـاج مفتـي عبدالمتیـن سـعید پـه مشرۍ، د ګمرکونـو او عوایـدو عمومـي ریاسـتونو د مسـئولینو او د افغانسـتان د سـوداګرۍ او پانګـوني او صنعـت او کانونـو خونـو د اسـتازو پـه ګـډون د ماليـې وزارت او خصوصـي سـيکټور د اسـتازو ترمنـځ د سـتونزو د حـل او همغـږۍ ناسـته، د دغـه معينيـت د غونـډو پـه تـالار کـې وشـوه. پـه پيـل کـې د ګمرکونـو او عوايـدو معيـن وويـل، چـې د اسـلامي امـارت د رهـبرۍ د لارښـوونو لـه مخـې د ماليـې وزارت او خصوصـي سـيکټور ترمنـځ منظمـې ناسـتې د دې لپـاره ترسره کېږي، چـې د ماليـاتو او ګمرکونـو پـه برخـو کـې شـته سـتونزې وڅېـړل شي، د حـل مناسـبې لارې ورتـه ومونـدل شي او پايلـې يـې لـه مشرتابـه سره شريکـې شي. ور پسـې د عوايـدو لـوی رئيـس الحـاج مولـوي سـفرمحمد سـحر د ماليـاتي خدمتونـو د لا ښـه کولـو، د متقابـل بـاور پيـاوړي کولـو او د برېښـنايي سيسـتمونو د پراختيـا پـه اړه خـبرې وکـړې او ټينـګار يـې وکـړ، چـې عـصري سيسـتمونه د ماليـاتي چـارو د چټکتيـا، روڼتيـا او اسـانتياوو پـه رامنځتـه کولـو کـې مهـم رول لـري. د ناسـتې پـه لـړ کـې د عاليقـدر اميرالمؤمنيـن (حفظـه اللـه تعالـی) لـه لـوري پـه ماليـاتو کـې د نويـو رامنځتـه شـويو تخفيفونـو پـه اړه معلومـاتي پريزينټېشـن هـم وړانـدې شـو. وروسـته بيـا د افغانسـتان د سـوداګرۍ او پانګونـې او د صنعـت او کانونـو خونـو اسـتازو لـه ماليـې وزارت څخـه مننـه وکـړه، چـې تـل يـې د خصوصـي سـيکټور سـتونزو تـه پـر وخـت رسـېدنه کـړې ده. پـه پـای کـې د ګډونوالـو سـتونزې، نظرونـه او وړانديزونـه واورېـدل شـول او د اصـولي رسـېدنې ډاډ ورکـول شـو.



د عوايدي فرصتونو د تطبيقاتي پلان په اړه ناسته وشوه

م ۲



د څار هيئت د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو لومړۍ ناسته وکړه

م ۲



د امارتي ادارو د جايدادونو او عوايدو د نويو سرچينو په تړاو د معلوماتو راټولولو په موخه ناسته وشوه

م ۲



هفتمین نشست هیئت رهبری ریاست عمومی عواید برگزار گردید

م ۲



د افغانستان لاس بې اسناده موټرونو د ثبت او محصول پروسه تمديد شوه

م ۳



په مالياتو کې د نويو رامنځته شويو تخفيفونو او د مؤسسو د کاري پروسو په تړاو ناسته وشوه

م ٤

## ... د مالياتي تخفيفونو

د ا.ا.ا د چارو اداري رئيس وويل، حکومتونه پر هغو ماليات ولاړ دي، چې د خلکو له خوا ورکول کېږي، او ماليات د حکومتونو په ټينګښت او بقا کې اساسي رول لري. نوموړي زياته کړه، چې د مالياتو راټولول د حکومت او خلکو ګډ مسئوليت دی او دواړه لوري بايد دغه مسئوليت په سمه توګه ترسره کړي. د عوايدو او ګمرکونو معين د اقتصادي ودې په برخه کې د حکومت او خلکو د رول په اړه معلومات وړاندې کړل او ويې ويل، سره له دې چې ځينې سوداګريزې لارې تړلې وې، تېر کال زموږ سوداګري (۵) سلنه زياته شوې ده. البته دا زياتوالی د هغې روڼتيا او باور پايله ده، چې د حکومت او خلکو ترمنځ رامنځته شوی دی. هغه همدارنګه وويل، هر څومره چې د مالياتو په راټولولو او لګښتونو کې روڼتيا تأمين شي، په هماغه اندازه باور رامنځته کېږي او د حکومت او خلکو ترمنځ واټن کمېږي.

## د عوايدي فرصتونو د تطبيقاتي پلان په اړه ناسته وشوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ او د عوايدو لوی رياست د رئيس او يو شمېر مسئولينو په ګډون، د مشرتابه عالي مقام له لوري د منظور شويو عوايدي فرصتونو د تطبيقاتي پلان په موخه ناسته وشوه. په دغه ناسته کې د منظور شويو عوايدي فرصتونو د پلي کېدو، د عايد لرونکو پروژو د ارزونې، د امارتي شرکتونو د ونډې ګټه (سهم مفاد)، د امارتي املاکو د اغېزمن مديريت، د اراضي اړوندو موضوعاتو، د افغانستان خِلاف لاس موټرونو د طرحې او استهداء د



تطبيق، ثقيله وسايطو ته د جواز سير او نمبر پلېټ د وېش، په ترافيکي مسيرونو کې د بې‌اسنادو وسايطو د مخنيوي، د بوديجوي واحدونو د غيرمالياتي عوايدو د بهير د مطالعې او راپور ورکولو او همدارنګه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د کرنيزو ځمکو پر صحي مديريت هم بحث او د نظرونو تبادله وشوه. د ګمرکونو او عوايدو معين مسئولينو ته سپارښتنه وکړه، چې د منظور شوي تطبيقاتي پلان ټول موارد دې پر ټاکلي وخت، لازمي همغږۍ او اغېزمن تعقيب سره پلي شي؛ ترڅو د عوايدي فرصتونه مديريت، ګټې اخيستنې او د امارت د عوايدو د زياتوالي په برخه کې عملي او دوامدار ګامونه پورته شي.

## د بغلان ولايت لپاره نوی مستوفي معرفي شو




د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) د حکم پر اساس مفتي کفايت الله حقاني د بغلان مستوفيت لپاره د نوي مستوفي په توګه ټاکل شوی، چې د عوايدو عمومي رياست د عملياتي مرستيال له لوري لومړی د بغلان ولايت په مقام کې د ياد ولايت والي او وروسته د بغلان د مستوفيت په مقام کې اداري کارکوونکو ته ور معرفي شو. د عوايدو عمومي رياست عملياتي مرستيال اسد الله ساجد خبيب، د بغلان مستوفيت کارکوونکو ته د نوي مستوفي د معرفت پر مهال د چارو د پراختيا او مراجعينو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو په موخه لازمي لارښووني او سپارښتنې وکړې. نوموړي له مخکيني مستوفي سره د مستوفيت د کارکوونکو د همکاريو ستاينه وکړه او له نوي مستوفي سره يې د همکاريو پر دوام ټينګار وکړ. په معرفت غونډه کې د بغلان والي مولوي عبدالله مختار، له مستوفيت سره د هر اړخيزې همکارۍ او همغږۍ د ډاډ ترڅنګ نوي مستوفي ته په چارو کې د بريا دعا وکړه. د يادونې وړ ده، چې مفتي کفايت الله حقاني تر دې وړاندې د هرات ولايت د مستوفي په توګه دنده ترسره کړې ده.

## د څار هيئت د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو لومړۍ ناسته وکړه

د ماليې وزات د عوايدو او ګمرکونو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د څار هيئت د (۱۴۴۸) هـ.ق کال لومړۍ ناسته د يادو ادارو د با صلاحيته استازو په ګډون د دغه معينيت د غونډو په تالار کې وشوه. په پيل کې د عوايدو او ګمرکونو معين د ياد هيئت د تېرو فعاليتونو او لاسته راوړنو په اړه خبرې وکړې او ټينګار يې وکړ، چې د ناستو پر مهال د ترسره شويو پرېکړو تطبيق بايد په بشپړ ډول تعقيب شي. نوموړي سپارښتنه وکړه، چې د پرېکړو د تطبيق پر مهال رامنځته کېدونکې ستونزې دې د تخنيکي هيئت له لوري په راتلونکو ناستو کې شريکې شي؛ ترڅو د مناسبو حل لارو له موندلو وروسته په اغېزمن ډول تطبيق شي. وروسته د تېرې ناستې د پرېکړو د تطبيق او مؤثريت د ارزونې په موخه د ټاکل شوي هيئت له لوري د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د ترسره شويو کړنو راپور او د غوره تطبيق په موخه وړانديزونه شريک شول. په ناسته کې پرېکړه وشوه، چې د ښاروالۍ له لوري دې مراجعينو ته د اسانتياوو د رامنځته کولو په موخه د شعبو لارښود او د کاري پروسو اړوند معلوماتي ويډيو او چاپي توکي ترتيب او خپاره شي. همدارنګه د ګمرکونو د سيستمونو رياست له لوري د يوه واحد سيستم په وسيله په ګمرکي اظهارنامو کې د اقتصادي وزارتونو او ادارو د فيسونو راټولولو اړوند د ترسره شويو اجراآتو بشپړ راپور وړاندې شو.



په پای کې د اړوندو چارو د لاښه والي په موخه د ناستې ګډونوالو خپل نظرونه، غوښتنې او وړانديزونه شريک کړل او ناسته د خير په دعا ويلو سره پای ته ورسېده.

## د امارتي ادارو د جايدادونو او عوايدو د نويو سرچينو د معلوماتو راټولولو په موخه ناسته وشوه

د ماليې وزارت د اداري معين مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ او د امارتي ادارو د استازو په ګډون د امارتي ادارو د جايدادونو او د عوايدو د نويو سرچينو د معلوماتو راټولولو په موخه د ياد وزارت د خيبر کنفرانسونو په تالار کې ناسته وشوه. د ناستې په پيل کې د ماليې وزارت اداري معين د عوايدو د اغېزمن مديريت او د شتمنيو د ثبت او ارزونې په برخه کې د روڼتيا پر اهميت خبرې وکړې او ويې ويل، چې جايدادونه د ادارو ارزښتمنې شتمنۍ دي، که چېرې په دقيق ډول ثبت، مديريت او وپېژندل شي؛ نو د



عوايدو په زياتولو او د خدماتو په ښه کولو کې مهم رول لوبولای شي. له بلې خوا د عوايدو د نويو سرچينو پېژندنه يوه اړتيا ده؛ ځکه د ټولنې د شرايطو او اړتياوو په بدلېدو سره، اداري بايد تل نوي فرصتونه پيدا او د هغوی د سمې ګټې اخيستنې لپاره لازم پروګرامونه ولري. وروسته سيکټوري مسئولين او د اړوندو برخو استازي مکلف وګرځول شول؛ تر څو موجود جايدادونه، د پېژندنې وړ عوايدي سرچينې او همدارنګه هغه موارد، چې د ادارو د عوايدو په زياتولو کې مرسته کولای شي، ثبت او اړين معلومات د اسلامي امارت د رياست الوزراء اداري معاونيت د لېږل شويو رسمي جدولونو سره سم چمتو او وړاندې کړي. په پای کې د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه وويل شول او غونډه د خير دعايې په ويلو سره پای ته ورسېده.

## نشست تحلیل و ارزیابی اهداف عوایدی (۱۳) وزارت خانه و ادارات امارتی برگزار گردید

نشست تحلیل و ارزیابی اهداف عوایدی غیرمالیاتی (۱۳) وزارت خانه و ادارات امارتی تحت ریاست الحاج مولوی سفرمحمد سحر رئیس عمومی عواید وزارت مالیه و حضور شماری از مسئولین این ریاست در تالار جلسات معینیت عواید و گمرکات برگزار گردید. در آغاز نشست رئیس عمومی عواید علاوه بر تذکر اهمیت عواید غیر مالیاتی، گفت که تمویل بودجه عمومی کشور به طور کامل از عواید داخلی تأمین میگردد؛ از این‌رو جمع‌آوری عواید تنها یک وظیفه اداری نیست بلکه یک مسئولیت عمومی نیز پنداشته می شود. در این نشست اهداف عواید غیرمالیاتی (۱۳) وزارت خانه و ادارات امارتی از شروع ماه حوت الی آخر ماه جوزا مورد ارزیابی قرار گرفت. همچنان پیرامون وضعیت مصارف پروژه‌های انکشافی عایداتی، روند جاری عواید غیرمالیاتی در (۱۳) واحد بودجوی، فرصت‌های عوایدی موجود و چالش‌ها بحث‌های همه‌جانبه صورت گرفته و به منظور بهبود هرچه بیشتر امور مشوره‌ها و نظریات لازم شریک گردید. رئیس عمومی عواید از همکاری اشتراک‌کنندگان قدردانی نموده و از تمام ادارات خواست تا تلاش‌های خود را در زمینه جمع‌آوری عواید، شناسایی فرصت‌های عوایدی و تحقق اهداف تعیین‌شده بیشتر به خرج دهند.

## هفتمین نشست هیئت رهبری ریاست عمومی عواید برگزار گردید

هفتمین نشست هیئت رهبری سال (۱۴۰۵) هـ.ش ریاست عمومی عواید وزارت مالیه تحت ریاست الحاج مولوی سفر محمد سحر رئیس عمومی عواید و حضور داشت معاون تخنیکی، مشاورین، رؤسای مربوطه و سایر مسئولین این ریاست در تالار جلسات معینیت عواید و گمرکات برگزار گردید. در آغاز نشست رئیس عمومی عواید به مسئولین گفت: به منظور ارائه خدمات بهتر به مالیه دهندگان و مراجعین، رفتار و عملکرد همکاران تحت مدیریت خویش را نظارت نمائید و با برخورد نیک و رفتار شایسته مراجعین را تشویق نمائید. در این نشست گزارش اجراآت انجام شده در راستای تحقق مسئولیت‌های سپرده شده به هیئت‌های مؤظف که در نشست قبلی رهبری تعیین شده بودند استماع گردید. سپس از سوی ریاست پلان و نظارت عواید بر علاوه ارائه گزارش تحلیل و پیشرفت عواید، گزارش هیئت مؤظف در مورد ارزیابی عملکرد مهم (KPI) نیز ارائه گردید. همچنان در این نشست پس از بحث های همه‌جانبه پیرامون انتقال مرکز مالیاتی مالیه دهندگان، شریک سازی پیام‌های آگاهی‌دهی مالیاتی از طریق شرکت‌های مخابراتی و تشخیص نهادهای لغوی به منظور حل مشکلات موجود تصامیم لازم اتخاذ گردید. قابل یادآوری است که رهبری ریاست عمومی



عواید، به منظور رسیدگی به مشکلات و موانع کاری این ریاست و فراهم‌سازی سهولت‌ها برای مراجعین نشست های منظم برگزار مینماید.

SHTAMANI
اوونیزه

# بانکداری اسلامی در افغانستان



محمد حنظله جمال
مدیر عمومی هماهنگی با ادارات
ریاست عمومی بودجه




بانکداری اسلامی در افغانستان یک پدیده بی پیشینه پنداشته میشود که از عمر آن یک و نیم دهه میگذرد. در قانون بانکداری مصوب (۲۰۰۴) برای بانکداری اسلامی هیچ چیز پیش بینی نگردیده بود. با وجود نبود مبنایی قانونی، ولی با موافقت بانک مرکزی بانکداری اسلامی از سال (۲۰۰۸) در افغانستان آغاز گردید. به این ترتیب دریچه های بانکداری اسلامی یک پی دیگر در چوکات بانک های مروجه جواز فعالیت گرفتند. به دریچه های بانکداری اسلامی بانک ملی افغان و افغان یونایتد بانک در سال (۲۰۰۸)، میوند بانک، غضنفر بانک و کابل بانک در سال (۲۰۰۹) و بانک بین المللی افغانستان در سال (۲۰۱۵) از سوی د افغانستان بانک اجازه فعالیت داده شد. با انکشاف بانکداری اسلامی در کشور در قانون بانکداری سال (۲۰۱۵) یک فصل برای بانکداری اسلامی و امورات آن در نظر گرفته شد. به این اساس و به مرور زمان، سایر قوانین و مقررات مورد ضرورت برای تطبیق و نظارت از بانکداری اسلامی مانند رهنمود های تهیه محصولات شرعی، مقرره های نظارت خارج ساحه و داخل ساحه، تصنیف بندی دارایی ها، چهارچوب ملی تنظیم امور شرعی، رهنمود تبدیلی بانک مروجه به بانک اسلامی و سایر مقرره ها و طرزالعمل ها انکشاف داده شده و تصویب گردید. در نتیجه آن، در سال (۲۰۱۸) بانک اسلامی افغانستان منحیث اولین بانک کاملاً اسلامی شروع به فعالیت نمود. قابل یادآوریست که این بانک قبلاً از سال (۲۰۰۹) زیر نام باختر بانک و بصورت مروجه فعالیت می نمود که در اصول تائید تبدیلی آن به بانک کاملاً اسلامی در سال (۲۰۱٦) صورت گرفته بود که پروسه تبدیلی آن دو سال را در برگرفت. یافته ها نشان میدهد که از قرار سال (۲۰۱۸) ارزش سکتور بانکداری اسلامی در افغانستان (٦۱۰) میلیون دالر بوده است. از آنجا که معلومات مالی دریچه های بانکداری اسلامی شامل صورت حسابات مالی بانک های مروجه بوده و این دریچه های صورت حسابات مالی جداگانه ای که به دسترس عام گذاشته شود، ندارند. بدست آوردن معلومات در مورد میزان دارایی های آنها بسیار مشکل است. ولی در آخر ربع سوم سال (۲۰۲۲)، میزان مجموعی دارایی ها، تمویلات شرعی و سپرده های بانک اسلامی افغانستان به ترتیب (۸۸,۷، ۴,۴، ٦۸,۵) میلیون دالر میباشد. به این ترتیب دارایی ها، تمویلات و سپرده های این بانک به ترتیب (۳,۸، ۲,۵ و ۳,٦) فیصد سکتور بانکی کشور را تشکیل میدهد. قابل یاد آوریست برای سال مالی (۲۰۲۲)، میزان ضرر این بانک تا آخر ماه سپتمبر (۲۰۲۲) بالغ بر (۲,۲) میلیون دالر میباشد.

با روی کار آمدن حکومت امارت اسلامی افغانستان تمام بانک ها ملکف گردیدن تا هر نوع معامله که در آن عنصر ربا دخیل باشد را متوقف نموده و فعالیت های خود را به اساس اصول بانکداری اسلامی عیار نمایند. قابل یادآوریست که این مدت زمان در مقرره تبدیلی بانک مروجه به اسلامی دو سال پیش بینی شده، البته بعد از تصویب پلان تبدیلی یک بانک در اصول از سوی د افغانستان بانک. طی این مدت از یک طرف د افغانستان بانک فرصت دارد تا قوانین، مقررات، رهنمود ها و ظرفیت های نظارتی مورد ضرورت برای سیستم بانکداری اسلامی را آماده و مهیا سازد. از سوی دیگر بانک های تجارتی اعم از دولتی، خصوصی و نمایندگی های بانک های خارجی فرصت دارند تا در این محدوده زمانی بالای پلان عبوری خود از بانکداری عنعنوی به بانکداری اسلامی که شامل تنظیم مدیریت سیستم معلوماتی و سافت ویر های مورد ضرورت به بانکداری اسلامی، استخدام کارمندان جدید یا هم آموزش کارمندان فعلی، تهیه و بروز رسانی مقررات و رهنمود ها، بروز رسانی تمام اسناد و قراردادهای مشتریان و سایر اشخاص ذیدخل مطابق به اصول شرعی میباشند.

# د افغانستان لاس بې اسناده موټرونو د ثبت او محصول پروسه تمدید شوه

د مالیې وزارت په وړاندیز، د ا.ا.ا د کابینې په تائید او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) په منظورۍ د افغانستان لاس بې اسناده (یوه کیلي) موټرونو د ثبت او محصول پروسه د روان (۱۴۰۵) هـ.ل کال تر پایه تمدید شوه او سر له اوسه د هېواد په اوو زونونو (کابل، هرات، بلخ، ننگرهار، کندهار، کندز او خوست/پکتیا) کې پیلېږي. د یوې کیلي موټرونو د ثبت او محصول په پروسه کې د خلکو اقتصادي حالات په پام کې نیول شوي او په لویه سلنه تخفیفونه ورکړل شوي دي. له (۱۹۹۰- ۲۰۰۴) ماډل ساده موټرونو ته (۳۵ سلنه) او له (۲۰۰۵) څخه تر وروستي ماډل پورې ساده موټرونو ته (٦۰ سلنه) تخفیفونه ورکړل شوي او د ساده او زغره والو یو کیلي موټرونو لپاره تعرفه (۲۰) سلنه ټاکل شوې ده. همداشان په دې پرېکړه کې د کورنیو چارو وزارت د



ټرافیکو لوی ریاست ته دنده سپارل شوې ده، چې د بې اسناده موټرونو په کنټرول کې د اسلامي امارت ټاکل شوي مقررات او احکام په پوره ډول پلي کړي. د یادونې وړ ده، چې تېر کال له (۱۹۹۰-۲۰۰۴) ماډل پورې ساده موټرونو ته (۳۰ سلنه) تخفیف، له (۲۰۰۵) څخه تر وروستي ماډل پوري ساده موټرونو ته (۴۰ سلنه) تخفیف ورکول شوی وو او د ساده او زغره والو یو کیلي موټرونو لپاره تعرفه (۳۰) سلنه ټاکل شوې وه.

# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه اعمارآشپرخانه مقام وزارت دارای نمبر تشخیصه ۱٤۰۵/MOF/ ۲۱۸۲-NCB/W که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء میگردد بدست آرند.
تاریخ مشخص آفرگشایی: ۰۷/ اسد /۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر
مکان: آدرس: پشتونستان وات-وزارت مالیه-کابل-افغانستان
منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه (تهیه و تدارک (۱۲) عدد هاردیسک مورد ضرورت ریاست تکنالوژِی ارتباطی و معلوماتی) دارای نمبر تشخیصه ۱٤۰۵/MOF/ ۲۱۱٦-NCB/G که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء میگردد بدست آرند.
تاریخ جلسه قبل از داوطلبی: ۳۰/ سرطان/۱٤۰۵ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر
تاریخ مشخص آفرگشایی: ۰۳/ اسد /۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

### اطلاعیه لیلام

وزارت مالیه به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۷ به مقدار(۳۵) بیلر مبلایل سوخته را میخواهد به بلند ترین قیمت به نفع امارت اسلامی لیلام نماید، داوطلبان میتوانند به تاریخ مذکور به اکادمی گمرکات حاضر و یا به شماره تلیفون (۰۷۸۰٦۲۵۴۳۸) به تماس شوند، پول تضمین، ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

صفر المظفر ۱۰ -۱۴۴۸ ل س | د زمري ۳ -۱۴۰۵ ل ل | د جولای ۲۵ -۲۰۲٦ز | شپږم کال | ۱٦۸ گڼه | ٤ مخیزه


## د مستوفیتونو له مسئولینو سره انلاین ناسته وشوه



د مالیې وزارت د عوایدو عمومي ریاست د عملیاتي مرستیال په مشرۍ او د دې ریاست د مستوفیتونو مرستیال او نورو مسئولینو په ګډون، د مستوفیتونو له مسئولینو سره د عوایدي وضعیت د ارزونې په موخه پر لیکه/ انلاین ناسته وشوه. د ناستې په پیل کې د عوایدو عملیاتي مرستیال اسدالله ساجد خبیب د چارو د لا ښه کېدو او پر ټاکلي وخت د عوایدي موخې ترلاسه کولو په موخه له ولایتي ادارو سره پر لا ښې همغږۍ رامنځته کولو ټینګار وکړ. ورپسې د کب میاشتې له پیله د غبرګولې میاشتې تر پایه د زیاتو عوایدو لرونکو مستوفیتونو د عوایدو ارزونه وشوه او د سکټوري ریاستونو او آمریتونو اړوند د غیر مالیاتي عوایدو د ستونزو د حل په موخه تر بحث وروسته، د تنفیذ او مالیاتي اطاعت پذیرۍ ریاست له لوري د مهمو کړنو د ارزونې راپور (KPI) د ارزښت او کارونې په اړه معلومات له ګډونوالو سره شریک شول. د ناستې په جریان کې مستوفیانو او د عوایدو آمرینو د کارونو د پراختیا په موخه خپل نظریات، ستونزې او غوښتنې شریکې کړې، چې د اصولي رسېدنې ډاډ ورکول شو. د یادونې وړ ده، چې د عوایدو عمومي ریاست د مستوفیتونو د کاري ستونزو او پرمختګونو د ارزونې په موخه په هرو (۱۵) ورځو کې یو ځل پر لیکه/ انلاین ناسته کوي.

## د مستوفیتونو له مسؤلینو سره ناسته وشوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د عملیاتي مرستیال اسدالله ساجد خبیب په مشرۍ او د عوایدو تخنیکي مرستیال، د مستوفیتونو د چارو مرستیال، د بررسۍ رئیس او نورو مسؤلینو په ګډون د هېواد د (۳۴) مستوفیتونو له مسؤلینو سره پر لیکه/ انلاین بڼه ناسته وشوه. په پیل کې د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال وویل، چې د بررسۍ ټیمونه د خپلو دندو د ترسره کولو پر مهال له بېلابېلو ستونزو سره مخ کېږي، ځکه ځینې مالیه ورکوونکي اړین اسناد پر وخت نه وړاندې کوي او له کارکوونکو سره مناسب چلند نه کوي. نوموړي زیاته کړه، چې د مالیاتي ادارو کارکوونکي باید د نظام د استازو په توګه له زغم، ښه اخلاقو او مسلکي چلند څخه کار واخلي او خپلې دندې د اصولو له مخې ترسره کړي. په دې ناسته کې همدا راز، د عوایدو لوی ریاست د ځانګړې پرېکړې له مخې د تېرو کلونو د دوسیو ارزونې د کړنلارې، د اتکلي ارزونې د تطبیق اړوند پرېکړې، د لومړۍ، دویمې او درېیمې درجه مستوفیتونو د ارزونې معیارونو، د بررسۍ برخې (KPI) او د مستوفیتونو د بررسۍ برخې د مقایسوي عوایدو په اړه هر اړخیز بحث او د نظرونو تبادله وشوه. د ناستې په اوږدو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) له لوري په مالیاتو کې د نویو رامنځته شویو تخفیفونو په تړاو معلوماتي پرزینټېشن هم وړاندې شو. په پای کې د ګډونوالو پوښتنې، نظرونه او وړاندیزونه واورېدل شول.

## د عوایدو عمومي ریاست د مستوفیتونو لپاره نوی مرستیال معرفي شو



د مالیې وزارت د عوایدو عمومي رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر، له لوري مولوي الهام الدین عمر د عوایدو عمومي ریاست د مستوفیتونو د نوي مرستیال په توګه د دغه ریاست مرستیالانو، رئیسانو، آمرینو او کارکوونکو ته د یاد ریاست په مقام کې معرفي شو. وروسته ښاغلی عمر د یوې انلاین ناستې له لارې مستوفیانو او د مستوفیتونو کارکوونکو ته هم ور وپېژندل شو. د عوایدو لوی رئیس د معرفت غونډې پرمهال وویل، چې مسئولیت صلاحیت نه، بلکې د خدمت موقع ده او مسئولین دې خپلې چارې په پاک نیت او اخلاص سره ترسره کړي. نوموړي همدارنګه وویل، چې تغییر او تبدیل د اداري چارو او فعالیتونو د پرمختګ په موخه ترسره کېږي. د عوایدو عمومي رئیس اداري کارکوونکو ته له نوي مرستیال سره د همکارۍ او همغږۍ د سپارښتنو سربېره نوموړي ته په اداري چارو کې د پرمختګ او بریا دعا وکړه. د یادونې وړ ده، چې مولوي الهام الدین عمر تر دې وړاندې د محلي بودیجوي ادارو د تفتیش رئیس په توګه دنده ترسره کوله.

## په مالیاتو کې د نویو رامنځته شویو تخفیفونو او د مؤسسو د کاري پروسو په تړاو ناسته وشوه



د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفرمحمد سحر په مشرۍ او د دغه ریاست د یو شمېر مسئولینو په ګډون، د مؤسسو له استازو سره، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) له لوري په مالیاتو کې د نویو رامنځته شویو تخفیفونو او همدارنګه په مالیاتي ادارو کې د مؤسسو د کاري پروسو په تړاو ناسته وشوه. د ناستې په پیل کې د عوایدو لوی رئیس وویل، چې د اسلامي امارت د رهبرۍ د لارښوونو له مخې د مالیاتي چارو د لا اغېزمن مدیریت لپاره د برېښنایي سیستمونو پراختیا اړینه ده. نوموړي ټینګار وکړ، چې عصري او نښلول شوي برېښنایي سیستمونه د مالیاتي چارو د چټکتیا، روڼتیا او اسانتیاوو په زیاتولو کې مهم رول لري او له مؤسسو څخه یې وغوښتل، چې د سیستم جوړونې په برخه کې له مالیې وزارت سره همکاري وکړي. د ناستې په اوږدو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) له لوري په مالیاتو کې د نویو رامنځته شویو تخفیفونو په تړاو معلوماتي پرزینټېشن هم وړاندې شو. همدارنګه په مالیاتي ادارو کې د مؤسسو د کاري پروسو، د غیرانتفاعي بنسټونو د مالیاتي معافیت د تصدیق لیکونو صادرولو په کړنلاره کې د رامنځته شویو بدلونونو او د مؤسسو د شته ستونزو په اړه بحث وشو. په پای کې د مؤسسو استازو له مالیې وزارت څخه د رامنځته شویو اسانتیاوو او همکاریو له امله مننه وکړه او همدارنګه د ګډونوالو ستونزې، نظرونه او وړاندیزونه واورېدل شول او ډاډ ورکړل شو، چې د اصولو له مخې به پر وخت رسېدنه ورته وشي.

## هشتمین نشست هیئت رهبری ریاست عمومی عواید برگزار گردید

هشتمین نشست هیئت رهبری سال (۱۴۰۵) هـ.ش تحت قیادت رئیس عمومی عواید وزارت مالیه الحاج مولوی سفرمحمد سحر و اشتراک معاون تخنیکی عواید، معاون عملیاتی عواید، معاون امور مستوفیت‌ها، رؤسا، آمرین و مسئولین مربوطه ریاست عمومی عواید در تالار جلسات معینیت عواید و گمرکات برگزار گردید. در آغاز نشست رئیس عمومی عواید بر تنظیم مؤثریت امور اداری، تطبیق به موقع فیصله‌ها و هماهنگی مداوم با مستوفیت‌ها تأکید ورزید و به مسئولین هدایت نمود تا وظایف خویش را در زمان تعیین شده و به شکل بهتر انجام دهند. سپس راپور تحقق فیصله‌های نشست قبلی رهبری، راپور تحلیل و پیشرفت عواید و راپور ارزیابی عملکرد های مهم (KPI) ارائه گردیده و از سوی اشتراک کنندگان مورد بحث و تبادل نظر قرار گرفت. همچنان پس از بحث همه‌جانبه در مورد چگونگی تطبیق فرمان شماره (۱) مورخ ۱۴/۱/۱۴۴۸ عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی)، انتقال احصائیه (۷) شرکت و اشخاص انفرادی، معیارهای انتقال دوسیه‌ها به ریاست بررسی، اخذ مالیه یک فیصد (۱٪) و موضوعات مهم دیگر فیصله‌های لازم صورت گرفته و نشست با دعای خیر اختتام یافت.

### د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای شي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره یې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د مالیې وزارت د ګمرکونو عمومي ریاست تل ستاسو په خدمت کې دی!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.